www.pildat.org

پلڈاٹ

ڈسکشن پیپر

# د پاکستان او افغانستان تجارت

پلڈاٹ
پاکستان انسٹیٹیوٹ آف
لیجسلیٹو ڈویلپمنٹ
اینڈ ٹرانسپیرنسی

www.pildat.org

پلڈاٹ

ڈسکشن پیپر

# د پاکستان او افغانستان تجارت

پلڈاٹ
پاکستان انسٹیٹیوٹ آف
لیجسلیٹو ڈویلپمنٹ
اینڈ ٹرانسپیرنسی

پلڈاٹ ایک ملکی، خودمختار، غیر جانبدار اور بلامنافع بنیادوں پر کام کرنے والا تحقیقی اور تربیتی ادارہ ہے جس کا مقصد پاکستان میں جمہوریت اور جمہوری اداروں کا استحکام ہے۔

پلڈاٹ، پاکستان کے ایکٹ برائے اندراجِ تنظیم 1860 کے تحت، ایک بلامنافع کام کرنے والے ادارے کے طور پر اندراج شدہ ہے۔

کاپی رائٹ پاکستان انسٹیٹیوٹ آف لیجسلیٹو ڈویلپمنٹ اینڈ ٹرانسپرنسی ۔پلڈاٹ

جملہ حقوق محفوظ ہیں

پاکستان میں طباعت کردہ
اشاعت:۔ دسمبر 2011

آئی ایس بی این :3-235-558-969-978

اس اشاعت کا کوئی بھی حصہ، پلڈاٹ کے واضح حوالے کے ساتھ، استعمال کیا جاسکتا ہے۔

ناشر

پلڈاٹ
پاکستان انسٹیٹیوٹ آف لیجسلیٹو ڈویلپمنٹ اینڈ ٹرانسپرنسی

ہیڈ آفس: نمبر 7، 9th ایونیو، F-8/1 اسلام آباد، پاکستان
رجسٹرڈ آفس: M-172، ڈیفنس ہاؤسنگ اتھارٹی، لاہور، پاکستان
ٹیلیفون: 345-123-111 (51-92+) فیکس: 3078-226 (51-92+)
E-mail: info@pildt.org; Web: www.pildat.org

# فهرست

مخففات وتشبيهات
سرليك 05
د پاکستان او افغانستان د راهدارۍ د تجارت معاهده/ دپاکستان او افغانستان د سوداګرۍ هوکړې 07
د پاکستان او افغانستان ترمينځه تجارتي اړيکې 07
د سوداګرۍ هو کړې په لاره کښې مشکلات، خنډان او موقعې 08
د سوداګرۍ هو کړه کښې لانجې/ ټرانزټ ټرېډ کښې لانجې 11
دوه اړخيزه تجارت زياتولو دپاره مهم اقدامات 12

جدول او شکلونه

جدول1: د پاکستان او افغانستان دوه اړخيزه تجارت (قيمت په ملينه امريکائي ډالرو کښې) 07
شکل1: د پاکستان او افغانستان دوه اړخيزه تجارت (قيمت په ملينه امريکائي ډالرو کښې) 07

# مخفات او تشببهات

| | |
|---|---|
| اے پي ټي اے ۔ | د پاکستان او افغانستان د سوداګرۍ هوکړه (د پاکستان او افغانستان ټرانزټ ټرېډ) |
| اے پي ټي سي اے | د پاکستان او افغانستان سوداګرۍ د هوکړې د رابطه کارۍ واکمن |
| ایف بي آر | د مالیاتو وفاقي بورډ |
| جي اے ټي ټي | د تجارت او محصول عمومي هوکړه |
| آئي ایس اے ایف | بین المللي د سلامتیا مرستیال قوا |
| جے ډبلیو جي | په ګډه کارکوونکي ډله |
| کے پي | خیبر پختونخوا |
| ایم او یو | د تفاهم یاداښتي لوظنامه |
| این ډبلیو ایف پي | شمالي ، مغربي ، سرحدي ولایت |
| یو ایس ایس آر | روسیه |

## سرليك:

د يوتجارتي ملګري په توګه پاکستان او افغانستان ډېر اوږد او زوړ تاريخ لري. پاکستان د افغانستان خارجي تجارت لپاره د سمندر په لور ډېره غټه لار په لاس ورکوي. هم په دې مهال افغانستان هم د پاکستان دپاره مرکزي آسيا ته د نېغو لارو د تابيا کولو استطاعت لري. افغانستان ته د پاکستان په ذريعه ټرانزټ د افغانستان او پاکستان ټرانزټ ټرېډ لوظنامې يعني APTTA لاندې کيږي کوم چې بندرګاه ، لارې، مواصلات او د ګمرك ټرانزټ طريقه کار خاص کوي. د وخت د تېرېدو سره د پاکستان په ذريعه د افغانستان نه يا افغانستان ته د څيزونو د ټرانزټ دپاره تجارتي حالتونو کښې ډېر غورئيز بدلون رامخې ته شوې دې. پاکستان او افغانستان دواړه هېوادونه دې ته سلا شوي دي چې نه يوازې د پاکستان په ذريعه دې افغانستان له د سمندر په لور رسائي ورکړې شي بلکې دې سره سره پاکستان له هم مرکزي اېشيا ته د نېغو لارو آسانتيا ورکولو له دوام پکار دے.

دا تحقيقاتي مقاله په دې خاص غرض تيار کړې شوې ده چې پاکستان او افغانستان د تجارتي اړيکو سره تړلې کشالو باندې قابو وموندې شي. او د پاکستان او افغانستان د پارلماني غړو خبرو اترو له د پس منظرپه توګه کار وکړي.

## مننه

پلډاټ د برټش هائي کمېسيون اسلام آباد د دې مقالې د اشاعت دپاره د مرستې مننه کوي.

## اعلان لا تعلقي

جاج ، رائې ،نتيجې او سپارښتنې چې په دې مقاله کښې څرګندې کړې شوي دي دا ضروري نه ده چې پلډاټ يا برټش هائي کمېسيون اسلام آباد د دې ټول ټال سره متفق وي.

اسلام آباد
دسمبر2011

**د پاکستان او افغانستان ټرانزټ ټریډ:**

پاکستان او افغانستان دوه ګاونډي هېوادونه دي۔ او دوئي تر خپله مینځه ډېر زیات یوشان والې لري۔ د اوله مسلمان هېوادونه او اسلامي جمهوریې دي۔ او دوئي خپلو کښې د وروروولۍ اړیکي لري۔ او دغسې د یو شان ثقافت ، قدرونو او تهذیبونو خاوندان دي۔ د پاکستان ځینې برخې د افغانستان غونډې ټوپوګرافي او جغرافیائي حالات هم لري۔ پاکستان تل افغانستان سره اړیکو ته په درنه سترګه کتلي دي۔

**د پاکستان او افغانستان ترمینځه تجارتي اړیکي:**

د یوتجارتي ملګري په توګه پاکستان او افغانستان ډېر لوئے او زوړ تاریخ لري۔ په افغانستان کښې د پرمختګ له کبله د پاکستاني مصنوعاتو یعني د خوراك د څیزونو نه واخلې تر وړې مشینرئ او د انجینئرنګ څیزونو پورې ډېر ښه تجارتي ځائې ثابت شوې دې۔ په نزدې تېرووختونو کښې دوه اړخیزه تجارت ډېر ګټه ور او زړه پورې څرګندونه کړې ده۔

د تېرې یوې لسیزې یعني کال 2000 – 2001ء نه واخله تر اوسه پورې تجارتي شمېرو کښې د یو کال یعني 2006 – 2007ء نه علاوه زیاتوالې په نظر راغلے دے۔ جدول 1 کلیز تجارتي قیمتونه په ګوته کوي۔


**جدول1-** دپاکستان اوافغانستان دوه اړخیزه تجارت(قیمت په ملینه امریکائي ډالرو کښې)

| کال | برآمدات | درآمدات | مجموعه | میزان |
|---|---|---|---|---|
| 2000-01 | 140 | 29.5 | 170 | 110.9 |
| 2001-02 | 169.2 | 22.9 | 192.1 | 146.4 |
| 2002-03 | 315.7 | 34.8 | 350.5 | 280.8 |
| 2003-04 | 492.9 | 47.4 | 540.3 | 445.4 |
| 2004-05 | 747.722 | 38.9 | 786.7 | 708.7 |
| 2005-06 | 1063.4 | 47.5 | 1110.9 | 1015.9 |
| 2006-07 | 753.9 | 76.2 | 830.2 | 677.6 |
| 2007-08 | 1143.6 | 91.3 | 1235 | 1052.3 |
| 2008-09 | 1398 | 93 | 1491 | 1305 |
| 2009-10 | 1572 | 139 | 1711 | 1433 |
| 2010-11 | 2336.7 | 172 | 2508.7 | 2164.7 |

**ذریعه:** د شماریاتو وفاقي اداره

www.afghanistans.com/information/economy/foreigntrade.htm.1

شکل 1: د پاکستان او افغانستان ترمینځه دوه اړخیزه تجارت (قیمت په ملینه امریکائي ډالرو کښې )




د یو کال نه تر بله په تجارت کښې 7.1 فیصد نه تر 82 فیصده د زیاتوالي اثر په نظر راځي۔ د کال 2006 – 2007 په دوران کښې په دې کښې ښکته والې ښکاري۔ چې د هغه سختو فوري ګامونو پورته کولو له کبله ګڼلې شي چې دا رنګه معلومات رامخې ته شول چې د سمګلنګ یو غټ مقدار او غېر قانوني تجارت د ټرانزټ ټرېډ د آسانتیا د سبوري لاندې وده مومي۔ او دا هم څرګنده شوه چې څه عناصر ناروا فائدې د پاکستان او افغانستان د ټرانزټ ټرېډ هو کړې د آسانتیا نه پورته کوي۔

جدول1 دا هم څرګندوي چې د تجارت توازن تل د پاکستان په حق کښې پاتے شوے دے۔ دوه اړخیزو تجارت په کال 2010 – 2011 کښې د 2509 امریکائي ډالرو پورې د 2164.7 ملینه امریکائي ډالرو د تجارت مثبت توازن سره د پاکستان په حق کښې سوا شوے دے۔

د پاکستان افغانستان1ته مهم برآمدات کوئنکي څیزونه څه په دا قسم دي۔

I. وریژې (ټول قسمونه)
II. د پټرولیم مصنوعات
III. سېمنټ
IV. په درملو پورې اړه لرونکي څیزونه
V. سبزئ
VI. مېوې
VII. د پلاسټك جوړ څیزونه
VIII. کېمیائي مصنوعات
IX. برېښنا او نوره مشینري
X. د کور د استعمال سامان او آلات
XI. د سبزو او ترکارو او مېوؤ دانو شربت
XII. د مواصلاتو آلات
XIII. د ځناورو دپاره خوراك
XIV. د بجلۍ پکي
XV. د ربړ جوړ څیزونه
XVI. خېمې
XVII. پېزار او داسې نور
XVIII. د څرمنې جوړ څیزونه
XIX. غنم
XX. کاغذ او پیپر بورډ
XXI. د کپړې نه جوړ څیزونه
XXII. کبان او د کبانو جوړ څیزونه
XXIII. د تېلو تخمونه
XXIV. سوتي تار او نور ډېر څیزونه

د افغانستان په درآمداتو کښې چې کوم نور څیزونه شامل دي هغې کښې د خوراك څیزونه ، موټرې ، پټرولیم پروډکټ او کپړې وغېره د ذکر وړ دي. د افغانستان زیات تر بېن المللي تجارت حکومتي اداري یا هغه اداري چلوي ، د کومو چی په حکومتي تجارت اجاره داري وي. دافغانستان په برآمداتو کښې چې کوم مهم څیزونه دي هغې کښې اوچی مېوې او قالینونه وغېره د یادونې جوګه دي. د افغانستان په نورو برآمداتو کښې تازه مېوې دانې ، قدرتي ګېس ،وړۍ او مالوچ شامل دي.

**د پاکستان او افغانستان د راهدارۍ د تجارت لوظنامه:**

د متحده قامونو د کنونشن او د تجارت او محصول د هو کړې د شق نمبر 5 ترمخه پاکستان د کال 1947ء راسې د افغانستان دپاره د راهدارۍ آسانۍ ورکوي. د ډېرو کلونو راسې پاکستان افغانستان ته د تجارت دپاره آسانۍ ورکوي او افغانستان د دې آسانیو نه فائده پورته کوي. په کال 1965ء کښې دواړو هېوادونو پاکستان او افغانستان د راهدارۍ د تجارت لوظنامې ته باقاعده شکل ورکړې شو. دې لوظنامې ترمخه پاکستان ته چې د افغانستان نه کوم څیزونه راوړې شي هغه د کراچۍ بندرګاه او قاسم بندرګاه د لارې راوړې شي. او د پاکستان نه چې افغانستان ته کوم څیزونه وړې شي د هغې د وتو پوائنټ یعني لارې به د خېبر پختونخوا نه تورخم او د بلوچستان د صوبې چمن وي.

د کال 1965 راسې د دواړو هېوادونو ترمینځه په مختلفو مدونو کښې پرمختګ شوے دے. چې په کښې د نوي دور سړکونه معارفي کول ، د مواصلاتو په مد کښې بدلون راوستل ، د ګمرك په طریقه کار کښې څو څو ځله زړه پورې بدلون کول او د دې نه ځانله په ګڼو څانګو او مدونو کښې انقلابي بدلون راوستې شوې دې. په خطه یا سیمه کښې د تجارتي ماحول بدلېدلو سره نړیوال تجارت کښې هم ډېر زیات بدلون راغلے دے. د تجارت د راهدارۍ په لوظنامه کښې بدلون په دې سوب هم وکړې شو چې پاکستان د منځنۍ آسیا هېوادونو ته خپل څیزونه برآمد کولې نه شول.

د کال 1965ء لوظنامه په سوب هم د نوې سره ترتیب کړې شوه چې دا شان د دواړو هېوادونو ترمینځه د کنټېنرو په ذریعه تجارت ته وده ورکړې شي. او هم دې سره سره د سامان وړو راوړو کښې د غلا غلطو مخ نیوې وکړې شي. پاکستان دا هم غوښتل چې د منځنۍ آسیا ریاستونو ته خپل څیزونه د افغانستان په لاره برآمد کړې شي. د کال 2006ء په وړومبو ورځو کښې پاکستان د دې لوظنامې د نوې سره د ترتیب کولو او دې له سمون او پېوستون ورکولو له هلې ځلې پېل کړې. او هم د دې غرض دپاره ددواړو هېوادونو سرکاري اهلکارانو خبرې اترې شروع کړې چې دا شان دې لوظنامې ته آخري شکل ورکولو او دې ته د نوې سره ترتیب ورکولو دپاره اتفاق رائے پېدا کړې شي.

**د راهدارۍ د تجارت د لوظنامې په لارو کښې مشکلات ، خنډان او موقعې**

د دواړو هېوادونو د ابتدائي خبرو اترو نه وروستو دواړه په ګڼو چارو یوې نقطې ته ورسېدل. او د پاکستان او افغانستان خارجه وزیرانو د مئي په 6 نېټه کال 2009ء کښې د مفاهمت یو یادابنت لاس لیك کړو. او دې کښې د دې هیلې څرګندونه وشوه چې د APPTA نوې لوظنامې ته به د دسمبر یو دېرشمې نېټې کال 2009ء پورې حتمې شکل ورکړې شي.

د مفاهمت د یادابنتي لوظنامې د لاس لیك کولو نه وروستو د دواړو هېوادونو یو شریك ګوند جوړ کړې شو چې پکښې د پېوستو وزارتونو د دواړو هېوادونو اعلی واکداران او د شخصي ادارو هغه کسان هم شامل وو څوك چې پاکستان او افغانستان کښې تجارت کوي. دې ګوند د مئي کال 2009ء نه واخله تر جولائي 2010ء پورې اووه غونډې وکړې او ددې خبرې کوشش ئې وکړو چې د تجارت د راهدارۍ لاره کښې کوم مشکلات دي دا دې لرې کړې شي.

په ټرانزټ تجارت کښې چې په کومو څیزونو غور وکړې شو او دا په وزارتي کچ وو هغه څه دا ډول دي:

**1. د څیزونو په کلیئر کولو کښې تاخیر:** د APTTA د لوظنامې لاندې چې د کومو څیزونو تجارت د دواړو هېوادونو ترمینځه کولې شو هغې کښې د کراچۍ او واهګه په پوله د کسټم په کلیئر کولو کښې مشکلات او دې کښې تاخیر هم ؤ.

**2. د ډاټا تبادله یعني د اعداد وشمار ورکړه راکړه:** د دواړو هېوادونو ترمینځه د کسټم په معامله او د دې د اعداوشمار په تبادله کښې مشکلات وو او هم دې ګوند په دې غور وکړو.

**3. مواصلات:** په دي سلا راغله چي د سامان اوړلو راوړلو دپاره د افغانستان ټرکونه استعمال کړي شي. او هم د دې خبرې پخلي وکړې شو چي د ټرکونو او مواصلاتو دپاره به نورې لارې چارې پرانستلي شي. چي په کښې مقامي لارې چارې هم شاملي دي. او د بده مرغه د دې په سوب د پاکستان په ټرانسپورټرانو کښې بدګمانی پیدا شوې چي د نوې لوظنامې ترمخه به دوئي د څیزونو اوړلو راوړلو څخه محرومه کولې شي.

د دې اندېښنو کوم بنیاد نشته ځکه چي د APTTA د آرټیکل 9 او د پروټوکول آرټیکل 1 ترمخه په کنټرېکټنګ ډلي د دې په کرایه اغستو کوم بندېز نشته. دې نه څرګندېږي چي دوئي به د سامان وړولو راوړلو لپاره تېز قیمتونه ورکوي. بله اندېښنه د پېښور نه خرطوم ته د لارې د حالت په اړه وه او د دې ښه کېدل د خیبر پختونخوا په حکومت دي. یو بله اندېښنه د افغانستان ټرکونو پاکستان کښې د تګ راتګ په اړه وه په APTTA کښې د دې په اړه داسې پرېکړه وشوه چي د پاکستان په ټرکونو افغانستان کښې او د افغانستان په ټرکونو پاکستان کښې د سامان په وړولو راوړلو بندېز ولګولې شو.

**4. ټرانزټ ټرېډ:** دواړه هېوادونه به د ټرانزټ ټرېډ په پالېسی کار کوي او چي دې کښې کومې مسئلې دي هغه به په یو مناسب وخت هوارې کړې شي. د دې مقصد دا وو چي د دواړو هېوادونو ترمینځه د بې باورۍ صورت حال ختم کړې شي.

**5. سلامتیا:** د سامان وړلو راوړلو په لارو د څیزونو د ناپ کولو ، یا شمېرلو دپاره بائیو مېټرك اوزار آلې لګول او ددې نه ځانله د کارګو د څارنې نظام هم معارفي کول.

**6. د وېزې آسانتیا:** د یو ټرك دوه کسانو یعني یو ډرائیور او یو کنډېکټر ته به د وېزې دپاره اجازه وي.

**7. د ډېروخت دپاره پروت سامان :** هغه سامان کوم چي تر ډېر وخته پورې د کراچۍ په بندرګاه پروت وي هغه به د یو خاص طریقه کار لاندې کلیئر کولې شي.

**8. غېر قانوني تجارت:** د غېر قانوني تجارت به په صحیح طریقه څارنه کولې شي. او د دې به په هېڅ قیمت اجازه ورکولې نشي.

**9. ممنوعه کمیاوي څیزونه:** د ممنوعه کمیاوي څیزونو مخ نیوي دپاره به پوره پوره مؤثر ګامونه پورته کولې شي.

**10. هندي برآمدات:** د افغانستان دپاره د واهګه په لارو د هندي څیزونو برآمداتو اجازه ورکولې نشي.

**11. د افغانستان برآمدات:** د هند دپاره به د افغانستان د برآمداتو د واهګه د لارې اجازت وي.

**12. قاچاق:** د قاچاق مخنیوي دپاره به د پاکستان حکومت مؤثره اقدامات کوي.

**13. هوائي ټرانزټ:** د دې لوظنامې ترمخه به پاکستان د افغانستان څیزونو دپاره د هوائي ټرانزټرعایت ورکوي.

**14. د پاکستان رېلوائے:** د کارګو دپاره به د پاکستان د رېلوائے ډاډګیرنه کولې شي او پاکستان به د دېلوظنامې ترمخه د څیزونو اوړلو راوړلو دپاره انتظامات کوي. د پاکستان چارواکي به د رېل ګاډي انجنونو او ډبو هم انتظام کوي.

**15. د کنټېنرو استعمال:** د تجارت د لوظنامې ترمخه به هغه کنټېنرې قابل قبول وي کوم چي سېل وي او هم دا وجه وه چي د خبرو اترو د جاري عمل په سوب کوم چي د دواړو هېوادونو دچارواکو او

وزارتونو په کچ اوکړې شوې په دې کښې لاندینۍ پرېکړې وکړې شوې.

**1. د وېزې په بابله پرېکړه:** د دوه کسانو چي یو به پکښې د ګاډي ډرائیور او بل کنډېکټر وي دوئي له به وېزې ورکولې شي. او دې ټرك کښې چي کوم سامان وي د دې به بائیو مېټرك نظام په ذریعه څارنه یا کره کتنه کولې شي.

**2. افغان ټرکونه:** د افغانستان ټرکونو ته به په خپلو مقرره لارو د تلو اجازت وي.په دې لارو کښې د کراچۍ بندر او سمندر او د واهګه پوله شامله ده.

**3. کارګو:** د افغانستان نه چي کوم څیزونه د نړیوال قانون ترمخه راوړې شي هغهبه د کنټېنرو په ذریعه راوړلې شي. دا ټرکونه به سېل وي او دا به د نړیوال معیارترمخه وي.

**4. خرابېدونکي څيزونه:** هغه څيزونه د کومو چې د خرابېدو خطره وي دا به په پرانستو ټرکونو کښې راوړې شي۔

**5. هندي برآمدات:** د هند برآمدا به د واهګه په لاره نشي کولې۔ او پاکستان دهند د برآمداتو دپاره په يو خاص ځائي ورکولو د خوښې څرګندونه کړې ده۔ او د داواړو هېوادونو په شريکه مسوده به د دې دپاره انتظامات کولې شي۔

**6. هند ته د افغانستان برآمدات:** پاکستان به د هند دپاره د افغانستان د برآمداتو د واهګه په لاره انتظام کوي ولې د افغانستان ټرکونو له به پکار وي چې د واهګه په پوله په يو خاص ټاکلي لار خپل برآمدات کوي۔

**7. غېر قانوني تجارت:** د غېر قانوني تجارت به په لاندينۍ طريقه چېکنګ يعني څارنه کولې شي۔ هغه اقدامات کوم چې به د غېر قانوني تجارت دپاره خپلولې شي هغه دا دي:

I. صرف د سېل کنټېنرو د تلو اجازه به ورکولې شي۔ دا به د نړيوال معيار ترمخه وي۔
II. د غېر قانوني تجارت مخنيوي له به د تجارت په ټولو ځايونو د څارنې آلات لګولې شي۔
III. د سامان د سکېن يعني چېك کولو او د کارګو د وزن کولو دپاره به د ګاډو د تېرېدو په ځايونو آلات لګولې شي۔
IV. که چرې د کسټم عملې ته په څه څيز شك وي نو دا به متعلقه د کسټم عمله چېك کولېشي۔
V. سامان به صرف په خپلو مقرره لارو وړلې شي۔
VI. د زيات مقدار سامان به په کهلاؤ ټرکونو کښې اوړې شي۔
VII. هغه څيزونه د کومو چې د خرابېدو خطره وي دا به په پرانستو يعني کهلاؤ ټرکونوکښې اوړې شي۔

**8. اقتصادي يا مالي ضمانت:** د غېر قانوني تجارت دپاره به د اقتصادي يا مالي ضمانت ضرورت وي۔ د کوم دپاره به چې د يو څيز برابر رقم يا محصول جمع کولې شي۔ او دا رقم به هغه وخت واپس ورکولې شي کله چې د دې هېواد نه ساما بهر اوځي۔ که چرې په مقرره وخت سامان بهر اونه باسلې شي نو د ضمانت دا رقم به اهلکار ځان له اخلي۔

**9. د منځګړتيا دپاره ټرېبونل يا عدالت:** د منځګړتيا دپاره يو ټرېبونل به د دواړو هېوادونو په مرسته ملګرتيا جوړولې شي۔ پاکستان او افغانستان به د دې دپاره د يو يو منځګړي انتخاب کوي۔ که چرې دوئي د منځګړے منتخب کول غواړي نو دا به ددواړو هېوادونو په مرسته ملګرتيا په شريکه کولې شي۔ که چرې دواړه هېوادونه په درېم منځګړي خوښولو کښې ناکامه يا پاتې راشي نو دوه دوه نومونه به د پاکستان او افغانستان له طرفه تجويز کولې شي۔ او درېم منځګړے به د څلورو تجويز شويو نومونو نه غوره کولې شي۔ څکه چې د دواړو هېوادونو ترمينځه د تجارت د راهدارى په آخري لوظنامه صلاح يو شوه نو دا لوظنامه د اکتوبر په 8م نېټه کال 2010ء کښې لاس ليك شوه۔ او هم دا لوظنامه د جون په 12 نېټه کال 2011ء کښې عملي شوه۔

په مختلفو کشالو د مذاکراتو په مهال د رايو يو کېدو په نتيجه کښې د پاکستان او افغانستان ترمينځه د جولائي مياشت کال 2010ء کښې اسلام آباد کښې د تفاهم يو يادښت لاس ليك شو د کوم په مهال چې د امريکا د خارجه چارو وزيره هم موجود وه۔ دغسې د نورو کشالو تابيا کولو او ددې لټون کولو څخه وروستو د دواړو هېوادونو ډلو لخوا د پاکستان او افغانستان ټرانزټ ټرېډ لوظنامه د اکتوبر په 28 نېټه کابل کښې لاس ليك کړى شوه۔ دې دستوره کښې پاکستان او افغانستان لپاره د امريکا خاص استازي رچرډ هالبروك هم ګډون وکړو۔

د امريکا لخوا په دې اتفاق د ذاتي خوښې څرګندونې يو سبب دا ؤ چې دې سره به افغانستان د دې جوګه شي چې هند سره د خپلو څيزونو تجارت وکړي۔ دا هم د ياد وړ ده چې پاکستان خو ټرانزټ لارې منځنې آسيائي هېوادونو سره تجارت کولو له ترلاسه کړى خو په خپله خاوره ئې د هند صادراتو افغانستان ته تللو له د ټرانزټ آسانى ورنکړې۔ د امريکا لخوا د خوښې څرګندوني بل سوب د دوئي د APTTA يادښت افغانستان کښې خپلو ځواکونو ته د رسنې په توګه هم کارول وو۔ د دې يادښت عملي کېدل د جنورى 12 نېټې کال 2011ء څخه وو ولې د ځينې اجراءاتو په سوب دې کښې پنځ مياشتې وروستوالي رامخې ته کېدو سره دا د جون 12 نېټې کال 2011ء څخه نافذ العمل وګرځولے شو۔

د ستمبر کال 2011ء کښې د افغانستان دتجارت وزير د پاکستان دوره وکړه او د پاکستان خپل همځنګ سره ئې خبرې اترې وکړې۔ او د دې وزير د دورې نه پس

د دوارو هېوادونو چارواکو د ګڼ شمېر مسئلو هوارولو له غونډې اوکړې. په دې مرحله کښې چې کومې مسئلې هوارې کړې شوې هغه دا دي:

1. پاکستان او افغانستان په يوه لوظنامه ورسېدل د کومې ترمخه چې د ضمانت رقم کم کړې شو چې دا شان د دې نه د افغانستان واړه برآمد کوونکي او درآمد کوونکي فائده پورته کړې شي. په دې مسئله د انشورنس کمپنيو په مشوره خبرې اترې وکړې شوې.

2. پاکستان په دې خبره صلاح شو او د هغه سامانونو د ټرانس لوډنګ اجازت ئې ورکړو کوم چې د پاکستان رېلوائے سره د ډېرې مودې راسې التوا کښې پراته دي او هم په دې لړ کښې يو زړه پورې پرېکړه وکړې شوه او دا مسئله هواره کړې شوه.

3. افغانستان چې د واهګه په پوله هند ته کوم برآمدات کوي د دې دپاره به پاکستان د مالي تحفظ ضمانت نه ورکوي او دې سره به هند ته د افغانستان برآمداتو ته ډېره زياته فائده ورسي

4. پاکستان چې به د منځنۍ آسيا هېوادونو ته د افغانستان په لاره کوم برآمدات کوي د دې به هېڅ قسم مالي سلامتيا او ضمانت نه شي ورکولې. ولې چې د واهګه په لاره د افغانستان په برآمداتو هند په لېږلو څه لېوي يا محصول نشي اخستې کېدې.

په دې لوظنامه د عمل کولو لپاره د پاکستان او افغانستان د کسټم جرګو د ستمبر په کال 2011ء کښې د پاکستان دوره وکړه. د افغانستان چارواکو د خپلو پاکستاني همځنګو سره وليدل او په دې مهال ئې ځينې مسئلې هوارې کړې.

**د راهدارۍ د تجارت معاملې يا د ټرانزټ ټرېډ کشالې:**

څه وخت چې د راهدارۍ د تجارت لوظنامه وکړې شوه نو په دې کښې ځينې خنډان او مشکلات پيدا شول هغه څه په دې رنګ دي:

1- بعض وختونو کښې د افغانستان ځينې درآمد کوونکو د حاجت نه زيات څيزونه درآمد کړل او بيا د حد نه زيات څيزونه د غېر قانوني تجارت او سمګلنګ په ذريعه پاکستان ته منتقل کړې شي. په دې کښې د تورو چايو، الېکټرانکس څيزونو سمګلنګ او غېر قانوني تجارت شامل دے. ولې چې د افغانستان عام اولس د تورې چائې په ځائې شنې چائې خوښوي او دوئې د خپل ضرورت نه زياته چائې افغانستان ته درآمد کوله هغه به بيا پاکستان ته دوباره د غېر قانوني تجارت په ذريعه راوړلې شوه. او هم داسې افغانستان ته د دوئې د ضرورت نه زيات د الېکټرانکس سامان درآمد کړې شو او بيا دا په غېر قانوني توګه په غلطو لارو پاکستان ته سمګل کړې شو.

2- د دې غېر قانوني تجارت او سمګلنګ په ذريعه هغه سامان کوم چې افغانستان ته درآمد کړې شو هغه سامان د خېبر پختونخوا بازارونو او مارکيټونو ته راوړلې شو.

3- او هم دا وجه ده چې د دې غېر قانوني تجارت او سمګلنګ په وجه په پاکستان کښې د څيزونو جوړونکي ډېر زيات حېرانه او پرېشانه شو. ولې چې دې سره د دوئې تجارت ته بد بد زيان رسېدو.

4- د دې په وجه نه يوازې پاکستان کښې په کورني بلکې بهرني کچ په سرمايه کارئ هم بد بد اثر اوغورځېدو ځکه چې د پاکستان کمپنيو د غېر ملکي کمپنيو د قيمتونو مقابله نه شوه کولې.

5- دې سره د پاکستان قانوني درآمدات هم وځپلې شو چې په کښې د ټائرونو او ټيوبونو تجارت او بيوپار شامل دے.

6- دا شان د دے بدعنوانو په سوب د کاروبار د ټېکس په مد کښې ډېر کمې راغې.

7- پخوا د افغانستان دپاره د کارګو د نقل وحرکت پوره پوره ريکارډ اېښودې شوې نه ؤ او زيات تر سامان به دوباره دپاکستان ښارونو ته په غېر قانوني توګه راوړلې شو.

8- د راهدارۍ د تجارت ترمخه چې کوم مراعات او آسانۍ ورکړې شوې وې نو دې ته د بدعنوانه سرکاري اهلکارو او سياسي خلکو لخوا زيان ورسېدو.

9- په کال 1996ء او کال 2000ء کښې د پاکستان حکومت د راهدارۍ د تجارت چې کوم منفي فهرست جوړ کړو کوم کښې چې د دې اسانۍ او رعايت ترمخه تجارت نه ؤ کول پکار نو د دې فهرست په ضد د افغانستان تاجرانو کښې بې اطميناني او بې چېنې پيدا شوه. او دا هغه څيزونه وو د کومو استعمال چې افغانستان کښې زيات نه ؤ. په دې فهرست کښې توره چائې ، ائيرکنډيشني ، ټي وي سېټونه ، وي سي آر او فرېجونه شامل دي.

10- د دې نه پس پاکستان چېمبر آف کامرس د دې منفي فهرست خلاف احتجاج وکړو.

11. د نائن الیون نه پس چې د امریکا او اتحادي پوځونو سیمه کښې عملیات پېل کړل او دپاکستان او افغانستان په پوله پوځونو وغورځولي شو ولې د دې سره هم په سمګلنګ کښې کوم زړه پورې کمې رامخې ته نشو.

اوس اوس چې فېډرل بېورو آف ریونیو کوم تحقیقات کړي دي د دې نه دا خبره په صفا توګه څرګنده ده چې د تجارت د راهدارۍ لوظنامې لاندې او د ایساف د تجارتي لوظنامې ترمخه دافغانستان تقریبا 28900[2] کنټېنرې غائبې وې. کوم چې د پاکستان آمدنۍ او افغانیانو ته د 55 اربه ډالرو زیان رسوي.

پاکستان چې دې لړ کښې کوم اقدامات وکړل د هغې په وجه د جنوري کال 2007ء نه واخله د دسمبر کال 2010ء پورې څه قدرې کمې اوشو. د یو لسیز مېټرک درآمد د 2803 کنټېنرو نه 737 ته راکم شو. کوم چې 74 فیصده کمې ښائي. دا شان د ټائرونو درآمد د 392 کنټېنرو نه 84 کنټېنرو ته (79 فیصد)، د تورې چائې 2350 کنټېنرو نه 1390 کنټېنرو ته (41 فیصد) ، د بجلۍ سامان د درآمد 1206 کنټېنرو نه 445 کنټېنرو ته (63فیصد) ، کمبلي د 262 کنټېنرو نه 93 کنټېنرو ته (65 فیصد) راغې. او هم دا شان د نورو ډېرو څیزونو درآمد هم کم شو. کراکرې 47 فیصد ، د ټائلټ سامان 53 فیصد ، ریفرېجرېشن او ائیر کنډیشنز 63 فیصد ، تېل او لبریکنټ 41 فیصده ، چیني 76 فیصده او د کمپیوټر مانیټرې 45 فیصده ،بال بېرنګ 69 فیصد[3] او د دې اقداماتو په وجه د افغانستان په درآمداتو کښې 54 فیصده کمې راغې.

او هم د دې اقداماتو په سوب غېر قانوني تجارت د یو باقاعده طریقه کار په ذریعه صحیح تجارت ته واړولې شو. د کوم په وجه چې پاکستان ته د 3.6 اربه روپو ګټه وشوه[4]

**دوه طرفه تجارت زیاتولو دپاره اهم اقدامات:**

په نومبر کال 2011ء کښې د مالیاتو وفاقي بورډ یعني ایف بي آر د APTTA عملي کولو دپاره قوانین جوړ کړل او د دې غټ مقصد دا ؤ چې APTTA د سېورې لاندې تجارت باقاعده کړې شي. دا قوانین د لاندیني کارونو لپاره پکار راوستے شو:

I. سامان به صرف هغه مال بردار کېریر کښې وړې شي. کومو ته چې کسټم لائسنس ورکړې وي.
II. کومو ګاډو ، کېریر یا کنټېنرو کښې چې سامان وړلې شي دا به دګرد هېواد په مختلفو سټېشنونو د کسټم عملې په چېك پوسټونو چېك کیږي.
III. د طورخم او چمن سره به د ګاډو د نقل وحرکت باقاعده کولې او د دې څارنه به کولې شي.
IV. د خاص ګاډو په بار کولو به بندېزونه لګولې شي
V. په جزي توګه د ګاډو او کنټېنرو د یو ځائې نه بل ځائې ته شفټ کول منع دي.
VI. د آېټ نظام به پرائیوېټ یعني نجي ډلو په ذریعه معارفي کولې شي.
VII. صرف او صرف د کسټم محکمه به د راهدارۍ د تجارت څارنه کوي.

په دې قوانینو کښې په دې خبره هم زور ورکړې شو چې د کسټم اداره ، د کسټم د جمرکي نظام افرادي قوت ته وده ورکړې شي. چې دا شان APTTA په ښه او مؤثره توګه لاګو کړې شي.

دا قوانین کومو ته چې د افغانستان د حکومت مرسته ترلاسه ده او هم دا هیله لرلې شي چې د راهدارۍ د تجارت عملي کولو کښې به هېڅ قسم خنډان نه پېدا کیږي.

مونږ دا هیله لرلي شو چې APTTA او هغه قوانین کوم چې د تجارت باقاعده کولو دپاره جوړ کړې شي نو دې سره به د بډو رشتونو چې په کښې قاچاق شامل دے د دې نوغې وویستې شي. ولې بلخوا په لړه پیمانه به د APTTA عملي کولو سره پاکستان او افغانستان کښې ځنې خلکو ته مشکلات پېدا شي. د دې نه ځانله به پاکستان او افغانستان کښې د خرابو حالاتو په سوب د ډرائیور او کنډېکټر وېزې ترلاسه کولو کښې مشکلات پېدا شي. د دې نه علاوه به د بائیومېټرک او څارني نظام او د آلاتو نصب کولو سره د دواړو هېوادونو قاچاق وړونکو کښې بې چېني پېدا شي. مالي تحفظ کوم چې به د هر یو کنټېنر په سامان لګولې شي دې سره به د افغانستان سوداګرو دپاره مسئلې پېدا شي. او هم په دا ډول مسئلو او مشکلاتو به د پاکستان او افغانستان د پارلماني غړو په راروانه غونډه کښې خبرې اترې کولې شي.

2. Exchequer suffers Rs 55 billion loss: 28,900 ATT containers go missing: FBR, September 30, 201, Link:
3. <http://www.brecorder.com/market-data/stocks-a-bonds/single/636/0/1236338/>
4. Business Recorder.com/market data/stocks-a-bond
www.Business Recorder.com/market-data/stocks

پلڈاٹ
پاکستان انسٹیٹیوٹ آف
لیجسلیٹو ڈویلپمنٹ
اینڈ ٹرانسپیرینسی

ہیڈآفس: نمبر7، 9thایونیو، F-8/1 اسلام آباد، پاکستان

لاہورآفس: 45۔اے سیکٹر20 سیکنڈفلور فیزIII کمرشل ایریا، ڈیفنس ہاؤسنگ اتھارٹی، لاہور

ٹیلیفون: 345-123-111 (51-92+) فیکس: 3078-226 (51-92+)

E-mail: info@pildt.org; Web: www.pildat.org